# د مین آیالت بېکارۍ Maine State Unemployment ګټو ته د عریضې کولو لپاره اړین معلومات

د هرې مرحلې په اړه ویډیویي لارښووني په یوټیوب کې کتلی شئ (یوازې په انګلیسي ژبه)

خپل ReEmployME اکاونټ چمتو کول: https://www.youtube.com/watch?v=7ySVbKf9vi8

لومړنۍ عریضه کول: https://www.youtube.com/watch?v=uW0qlXfU9lQ

اونیزه عریضه کول: https://www.youtube.com/watch?v=tu0M9w-gWS4

که چېرې تاسې ایمیل نه لرئ، په جیمیل Gmail کې یو ایمیل اکاونټ جوړ کړئ (او یا په یاهو Yahoo، آوټلوک Outlook کې).

په ReEmployME کې د نوي کارن اکاونټ جوړولو لپاره، www.maine.gov/reemployme ته لاړ شئ او جوړ کړئ:

**د ننوتلو نوم Login Name: ______________________________________________**

**رمز Password: ______________________________________________**

**اړینه! د اکاونټ له جوړولو وروسته مو ایمیل تایید کړئ:**

1. په خپل اکاونټ کې مو د ګټلو ساتل Benefit Maintenance پیداکړئ > د عریضه کوونکي د معلوماتو تازه کول Update Claimant Profile > د ایمیل تاییدول Verify E-mail:
2. په راتلونکې صفحه کې ددې لپاره چې خپل ایمیل مو فعاله کړی، یا خو هغه د تایید کوډ داخل کړئ چې په خپل ایمیل آدرس کې مو ترلاسه کړی وي او یا په 'here' باندې کلیک وکړئ، ترڅو یو نوی کوډ جوړ او ستاسې د قضیې ایمیل آدرس ته ولېږل شي. (که چېرې تاسې یو بل د تایید کوډ ته اړتیا لرئ، په 'here' باندې کلیک وکړئ. د یو نوي تایید کوډ سره به یو ایمیل تاسې ته در ولېږل شي.)
3. که چېرې تاسې ته د تایید نوی کوډ در ولېږل شو، نو په همدې صفحه باندې بیرته 2 مرحلې ته لاړ شئ او کوډ داخل کړئ، ترڅو د فعالولو پروسه بشپړه شي.

## د بې کارۍ پروګرام ته د غوښتنلیک وړاندې کولو لپاره به تاسې لاندینیو شیانو چمتوکولو ته اړتیا ولرئ:

1. قانوني نوم (لومړنی نوم، منځنی نوم، تخلص)
2. ستاسې اوسنی پستي آدرس
3. ستاسې د ټلیفون شمېره
4. ایمیل
5. جنس (نارینه/ښځینه)
6. د زیږدو نېټه (میاشت، ورځ، کال)
7. د ټولنیز امنیت شمېره Social Security Number (SSN)
8. که چېرې تاسې د آمریکا متحده آیالاتو طبعه نه یاست، تاسې باید لاندیني شیان ولرئ:

a. د دایمي اوسېدونکي قانوني حیثیت (شنه کارت "Green Card" لرونکی)،

b. د متحده آیالاتو د کارموندنې مستند سند (کاري اجازه "Work Perment")، او یا

c. راتګ/روانېدنې ریکارډ کوم چې قانوني ګمارنه "employment authorized" څرګندوي ('I-94' کارت)










## د بل هیواد څخه د راغلي شمېره Alien Number

- که چېرې تاسې د green card او یا work permit درلودونکي یاست، خپل USCIS/Alien شمېره مو په هغه ځای کې داخله کړئ چېرې چې آنلاین غوښتنلیک، "Alien Number" ذکر کړی وي.

- که چېرې تاسې د "employment authorized" I-94 درلودونکي یاست، مهرباني وکړئ د خپل I-94 کارت 11 رقمیزه شمېره مو په هغه ځای کې داخله کړئ چېرې چې آنلاین غوښتنلیک "Alien Number" ذکر کړی وي.

## ستاسې د سند د اعتبار ختمېدو نېټه Expiration Date of Your Document

مهرباني وکړئ هغه نېټه داخله کړئ په کومه چې ستاسې د پورتني سند د اعتبار موده پای ته رسېږي.

**نوټ:** که چېرې ستاسې سند د اعتبار ختمېدو نېټه نه لري، مهرباني وکړئ ستاسې د غوښتنلیک لېږلو څخه یو کال وروسته نېټه داخله کړئ.

- **مثال:** تاسې د ګټو ترلاسه کولو لپاره غوښتنلیک په 4/1/2020 نېټه استوئ. د اعتبار ختمېدو نېټه باید 4/1/2021 داخله کړئ.

## د وړتیا شرایط

- د اساس دورې معاشاتو Base Period Wages ترلاسه کولو پر مهال تاسې باید په قانوني ډول په متحده آیالاتو کې د کار کولو اجازه ولرئ.
- تاسې باید په قانوني ډول د کار کولو اجازه ولرئ کله چې تاسې د بې کارۍ ګټو ترلاسه کولو لپاره غوښتنلیک لېږئ.
- ستاسې د Social Security Number او/یا Alien Number به د فدرالي ډېټابیسونو څخه تایید شوي وي، څکه نو باید ددې اسنادو اړوند ټول معلوماتو داخل کړئ.

## د ژوند ملګري او کوچني (کوچنیانو) اړین معلومات

- د ژوند ملګري/ماشوم قانوني نوم (لومړی نوم، منځنی نوم، تخلص)
- Social Security Number
- اړیکه
- د زېږېدو نېټه

## د ګمارونکي/دندې تاريخچې په اړه معلومات

که چېرې تاسې له يو څخه زياتې دندې يا ګمارونکي درلودل، تاسې بايد د تېرو 18 مياشتو د ټولو ګمارونکو نومونه ذکر کړئ

1. د ګمارونکي (ګمارونکو) نوم (د شرکت مکمل نوم ذکر کړئ)
2. د ګمارونکي (ګمارونکو) آدرس (د شرکت مکمل پوستي آدرس له پوستي کوډ سره ذکر کړئ)
   a. د ګمارونکي (ګمارونکو) د تليفون شمېره
   b. د څارونکي يا سوپروايزر نوم *(ددې غوښتنه نه کېږي، مګر کېدای شي له تاسو سره د پوښتنو د موجوديت په صورت کې مرسته وکړي)*
3. د سوپروايزر د اړيکې شمېره يا ايميل *(دذې غوښتنه نه کېږي، مګر کېدای شي له تاسو سره د پوښتنو د موجوديت په صورت کې مرسته وکړي)*

## هلته مو څومره موده کار وکړ او کله مو کار پيل کړ؟

1. ستاسې د تر ټولو وروستۍ ګمارنې نېټه / کله چې تاسې کار کاوه
   a. کله مو دا دنده پيل کړه؟ مياشت، نېټه، کال
   b. کله مو دا دنده پرېښوده (له دندې څخه ووېستل شوئ)؟ مياشت، نېټه، کال
2. په دې دنده کې مو د اونۍ د کاري ساعتونو شمېر؟ مکمله ورځ/نيمه ورځ؟

## تاسې ته څومره پيسې درکول کېدې؟

1. په ساعت کې څومره پيسې درکول کېدې؟ ساعتوار معاش؟
2. په اونۍ کې په ناخالص ډول څومره پيسې درکول کېدې؟ (له مالي ورکولو څخه د مخه مجموعه)
3. په اونۍ کې په خالص ډول څومره پيسې در کول کېدې؟ (په حقيقت کې مو څومره پيسې ترلاسه کولې). (د تاييد لپاره check stubs يا payment stubs ته وګورئ)
4. **ناخالص معاش:** د غوښتنليک لېږلو پر مهال د دندې د هرې اونۍ ناخالصو عايداتو په اړه مو راپور ورکړئ، همدارنګه د امتيازونو په اړه (جلاوالي، د عمومي رخصتۍ معاش، د رخصتۍ معاش، بخششې) د راپور نه ورکول، کېدای شي درغلي وشمېرل شي.

## څه ډول غوارئ پيسې ترلاسه کړئ؟

له تاسې څخه به ستاسې د خوښې د پيسو ترلاسه کولو طريقې په اړه وپوښتل شي: په بانک کې ستاسې شخصي د سپما Saving او يا چيکينګ Checking اکاونټ او يا د اداينې په الکترونيکي کارت Electronic Payment Card (EPC) کې په مستقيم ډول زيرمه Deposit کول. نوموړی کارت د متحده آيالاتو د يو بانک لخوا ويزا ډيبيټ کارت دی.

### که چېرې غوارئ چې پيسې مو په مستقيم ډول بانکي اکاونټ يا حساب ته راشي، تاسې به لاندې شيانو ته اړتيا ولرئ:

- د بانکي اکاونټ درلودونکي نوم
- د بانک نوم
- د بانک موقعيت

- د بانک د تلیفون شمېره
- Checking او یا Saving اکاونټ
- د اکاونټ شمېره
- د بانک روټینګ شمېره "routing number" (په چیکونو باندې پې پیداکولی شئ)

که چېرې غواړې چې پیسې مو د الکترونیکي ادایني (ویزه ډیبیټ) کارت له لارې ترلاسه کړی، تاسې ته به یو ویزه کارت در ولېږل شي. د کارت د استعمالولو لپاره لارښوونې له کارت سره موجودې وي. له www.maine.gov/reemployme څخه لیدنه وکړئ او د نورو معلوماتو لپاره د "Learn About" په برخه کې د ادایني لارو Payment Options باندې کلیک وکړئ.

## د مالیې ملاحظات

له تاسې څخه به وپوښتل شي چې آیا غواړی د ګټو لپاره د غوښتنلیک وړاندې کولو د لومړی مرحلې په جریان کې درڅخه مالیه *(مونږ ستاسې د ورتیا په صورت کې تاسې ته سپارښتنه کوو چې مالیې کرځونې ته اجازه ورکړئ، ترڅو وروسته د بېکاری پیسو لپاره مالیې ورکولو ته اړ نه یاست)* 10 سلنه فدرالي مالیه درڅخه وګرځول شي؟ 5 سلنه آیالاتي مالیه درڅخه وګرځول شي؟

- که چېرې تاسې اوس ټولنیزه امنیتي بیمه Social Security Insurance (SSI) لرئ او یا د خپل ماشوم لپاره عامه مرسته (TANF) ترلاسه کوی، په دې صورت کې **کېدای شي** تاسې له اتومات مالیې کرځونې څخه مثتثنی یاست.

**کله چې تاسې غوښتنلیک ولیږئ، ستاسې د غوښتنلیک د قبلېدو په صورت کې به تاسې د تایید شمېره او د تایید ایمیل ترلاسه کړئ.** که چېرې تاسې د تایید شمېره ترلاسه نه کړه، تاسې د غوښتنلیک لېږلو پروسه نده بشپړه کړې.

**داچې تاسې غواړی د بېکاری ګټې ترلاسه کړئ، تاسې باید هره اونی یو تصدیق ولیږئ. تاسې کولای شئ نوموړی کار د خپل ReEmployME اکاونټ او یا ټلیفون له لارې ترسره کړئ.**

## سرچینې

**د بې کاری په اړه تکراري پوښتنې:** https://www.maine.gov/labor/docs/2020/covid19/covidfaqandui.pdf

**د بېکاری MDOL ویبپاڼه:** https://www.maine.gov/unemployment/

**د COVID-19 بېکاری ویبپاڼه:** https://www.maine.gov/labor/covid19/

**د آنلاین غوښتنلیک لېږل:** **www.maine.gov/reemployme**

**د ګټو د خدماتو اداري کاري ساعتونه:** دوشنبه – جمعه، د سهار 8:00 څخه تر ماښام 5:00

**د پیرېدونکو د خدمتونو ساعتونه:** دوشنبه – جمعه، د سهار 8:00 څخه تر غرمې 12:30

**د پیرېدونکو د خدمتونو ټلیفون:** 1-800-593-7660

د پیرېدونکو آنلاین خدمتونه: www.maine.gov/labor/contact (د بېکاری Unemployment تکمه انتخاب کړئ)

د مسلک محلي مرکز/په ژوندی بڼه خبرې کول: https://www.mainecareercenter.gov/locations/index.shtml